UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه

UNITED NATIONS
ASSISTANCE MISSION IN
AFGHANISTAN

په داسي حال کي چي ملکي تلفات په ۲۰۱۶ کي تر ټولو لوړي کچي ته رسيدلي، ملګري ملتونه له ښکيلو ډلو غواړي چي د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د بنديدو لپاره فوري اقدامات تر سره کړي

کابل، د ۲۰۱۷ کال د فبروری ۶ مه – ملګرو ملتونو په افغانستان کي د جګړې له ټولو ښکيلو ډلو څخه وغوښتل، چي د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د بنديدو لپاره چټک ګامونه پورته کړي، په داسي حال کي چي د ملګرو ملتونو د ننني نوي خپور شوي رپوټ له مخي، په ۲۰۱۶ کال کي د ماشومانو د مرګ ژوبلې د لوړې کچې په ګډون، ملکي تلفات تر ټولو لوړې کچې ته رسيدلي دي.

ياد رپوټ ۱۱۴۱۸ د جګړې اړوند ملکي تلفات ثبت کړيدي، چې ۳۴۹۸ تنه وژل شوي او ۷۹۲۰ تنه ټپيان دي. له دي شميرې څخه ۳۵۱۲ ماشومان دي، چې ۹۲۳ تنه وژل شوي او ۲۵۸۹ تنه نور ټپيان دي او د پخوا د تر ټولو لوړې شميرې په پرتله ۲۴ سلنه ډيروالي په ګوته کوي.

په افغانستان کي دملګرو ملتونو مرستندويه پلاوي (يوناما) له ۲۰۰۹ کال راهيسي په منظمه توګه د ملکي تلفاتو ثبتول پيل کړي دي، چې دغه شميره دهغه مهال راهيسي تر ټولو لوړه ده.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي، تدميچي ياماموتو وويل: " د زرګونو افغان ملکي وګړو مرګ ژوبله خورا زړه بورنوونکي ده او تر ډيره بريده يي مخنيوی کيدای شي. د جګړې ټول ښکيل اړخونه بايد د ماشومانو په ګډون چې ژوند يي خراب شوی، د ټولو عام افغان ښځو او نارينه وو د ژغورلو لپاره بيړني کوتلي ګامونه اوچت کړي."

د حکومت مخالف عناصر، په ځانګړي توګه طالبان د نړدي دوه پردريمي برخي ملکي تلفاتو مسئوليت لري، په داسي حال کي چې لږ تر لږه د يو پرځلورمي برخي پرې يي د دولت پلوه ځواکونو په غاړه ده.

دغه کلنی رپوټ کاږي، چې د ۲۰۱۵ کال په څير د دولت پلوه او دولت ضد عناصرو تر منځ ځمکنۍ جګړې، په تيره بيا د خلکو د اوسيدو په سيمو کي د ملکي تلفاتو(مړيني او ټپيانو) د کچې د زياتيدو اصلي عوامل پاتي دي، ورپسي د ځای پر ځای شوي چاوديدونکو توکو کارونه، ځانمرګي او ډله ييز بريدونه ، هدفي او قصدي وژنې د ملکي تلفاتو عمده عاملونه دي.

دغه راپور همدارنګه د داعش (خراسان ولايت اسلامي دولت) له خوا په بريدونو کي زياتوالی په ګوته کوي، چې په ځانګړي توګه شيعه مسلمانان په نښه کوي. يوناما ۸۹۹ ملکي مرګ ژوبله (۲۰۹ مړينه او ۶۹۰ ټپيان) ثبت کړې، چې د تير کال په پرتله لس برابره زياتوالی ښيي. د دي مرګ ژوبلې ډيری برخه د داعش له خوا د شيعه مسلمانانو پر ټولنې د درې لويو بريدونو په پايله کي رامنځ ته شوې.

هوايي بريدونه ، چې د افغان او نړيوالو ځواکونو له خوا تر سره شوي، ۵۹۰ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله (۲۵۰ مړينه او ۳۴۰ ټپيان) اړولې، چې د ۲۰۱۵ په پرتله دوه برابره شوې او د ۲۰۰۹ کال راپديخوا تر ټولو لوړه کچه ده.

ياماموتو، چې په افغانستان کي د ملګرو ملتونو د مرستندويه پلاوي (يوناما) مشر هم دی، د ځمکنيو جګړو د ويجاړوونکو اغيزو تر څنګ پر ملکي وګړو په لوړه کچه قصدي مخ پر ډيريدو ځانمرګي بريدونه هم وغندل.

نوموړي وويل: " تير کال په افغانستان کي د ملکي وګړو يو بل د ګراو نه ډک کال و ، که چيرې په جګړو کي ښکيل اړخونه د خپلو عملياتو پايلو ته د بياکتلو جدي هڅه ونکړي، نو د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې کچه، له کورونو بيځايه کيدل او نور انساني کړاوونه به په زړه بورنوونکي حال په لوړه کچه پاتي شي."

د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کميشنر زيد راعد الحسين وويل، د مرګ ژوبلې شميرې راوښودله چې د ټولنې تر ټولې زيان منونکي برخې تر ټولو لوړه بيه پرې کړې ، " ماشومان ووژل شول، ژانده شول، معيوب شول او کله يي چې له ناڅاوده توکو سره لوبې کولې، په ناپوهی کي د خپلو ملګرو د مړيني لامل شول، چې په غفلت سره د جګړې د ښکيلو ډلو له خوا شاته پريښودل شوي. مذهبي اقليتونه په جوماتونو کي د عبادت پر مهال په نښه کيږي، ښځې تش په نوم موازي عدلي پروسې تر عنوان لاندې په دوامداره توګه په بيرحمۍ سره سزا ويني."


UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

یاماموتو او زید له ښکیلو ډلو وغوښتل چې د ملکي وګړو میشت سیمو کې د چاودیدونکو وسلو استعمال راکم کړي تر څو ډاډ تر لاسه شي، چې د جګړې پاتې ناچاوده توکي له سیمو څخه لرې شوي دي. دوی همدارنګه د نړیوالو بشردوستانه او د بشري حقونو له قوانینو څخه د سرغړونې لپاره د حساب ورکړې او عدالت تامین پر اړتیا ټینګار وکړ.


د راپور له مخې، " پر ملکي وګړو د بریدونو دوام او د دولت ضد عناصرو له خوا بې توپیره بریدونه، په ځانګړي توګه د ځای په ځای شویو چاودیدونکو توکو څخه ګټه اخیستل او پر ملکي ګڼ میشته سیمو کې ځانمرګي بریدونه د غندنې وړ او غیر قانوني دي او په ډیرې حالاتو کې کیدای شي جنګي جرمونه وشمیرل شي. دا ډیره مهمه ده چې سر غړوونکي، که هر څوک وي باید د داسې کړنو لپاره حساب ورکړي."


د یوناما د ۲۰۱۶ په وسله والو شخړو کې د ملکي وګړو خوندیتوب کلنی رپوټ دلته دلاسرسي وړ دی:
https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports

* * *



UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN





UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

